مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۹/۰۹

# غزل

داسي ورځ به راسي چي رويبار به درغلی وي
ستا تر کړکی لاندي به په سرو اوښکو کي غلی وي
ته به مي د ليک په تمه سره اهاړ ته منده کي
تللی به قاصد وي يو پيغام به يي ليکلی وي
هغه شاعر هېر که چي نظمونه يي ليکل درته
لار يي کړه بدله لکه نه چي زېږېدلی وي
نه به دي د سره سالو پلو ته غزل وليکي
نه به دي پاېزېب هره مسرۍ کی شرنګېدلی وي
نه به يي د ستورو غاړګۍ درته راوړی وي
نه به ستا په خيال کي د سپوږمی تر کوره تللی وي
نه به يي په سيوري پسي ځغلي ماشومان د ښار
نه به ستا په کلي کي په کاڼو چا ويشتلی وي
تاته به در پاته زما خيالونه زما يادونه وي
بيا به دي په لوبو کي رنګين امېل شلېدلی وي
ته به مي سلګۍ سلګۍ کفن په اوښکو وګنډې
ما به دي په خوب کي مرغلين امېل پېيلی وي
تا به له زګېروي سره بوډۍ لکړه راولي
زما د قبر سر ته ارغوان به غوړېدلی وي
ژوند به جهاني پر ورکه لار درخځه وړی وي
تا به يي په روڼو سترګو خيال تر لاس نيولی وي.

د ۲۰۲۳ کال د اګسټ يوووېشتمه، ويرجينيا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ